څوک چې له اطاعت څخه ووت، او ټولی يې پرېښوده، بيا مړ شو، نو مرګ يې د جاهليت مرګ دی

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «څوک چې له اطاعت څخه ووت، او ټولی يې پرېښوده، بيا مړ شو، نو مرګ يې د جاهليت مرګ دی، او څوک چې د داسې يو بيرغ لاندې وجنګيده چې برخليک يې نه و معلوم يوازې د خپلوانو او قوم په خاطر په قهر او غصه شي، يا دا چې تعصب ته يې بلنه کوله، او يا يې ملاتړ د تعصب له مخې و، بيا مړ شو، نو مرګ يې د جاهليت دی، او چا چې زما پر امت خروج وکړ، داسې چې نيک او بد يې له منځه يوسي، او د مؤمن په اړه يې پروا و نه ساتي، او د هېڅ ژمنې والا سره يې په ژمنه وفا نه کوي، نو هغه له ما څخه ندی او زه له هغه څخه نه يم».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د حاکمانو له اطاعت څخه ووځي او د اسلام له هغې ډلې څخه جلا شي چې له امام سره يې بيعت کړی وي او په همدې حالت کې مړ شي، نو هغه د جاهليت د خلکو په مرګ مړ شو، هغه خلک چې د امير اطاعت يې نه کاوه، د يو جماعت سره نه يو ځای کېدل، بلکې دوی بېلابېلې ډلې او ټپلې وي چې يو بل به يې سره وژل. او هغه صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي، څوک چې د داسې بيرغ لاندې وجنګيږي چې حق لوری پکې له باطل څخه روښانه نه وي، يوازې د خپل قوم يا خپلې قبيلې لپاره د تعصب په خاطر غصه کيږي؛ نه د دين او حق د ملاتړ لپاره، نو له بصيرت او پوهې پرته د تعصب له مخې جنګيږي، که چېرته پدې حالت کې ووژل شو، مرګ يې لکه د جاهليت د مرګ په څېر دی. او دا چې څوک د محمد صلی الله عليه وسلم د امت پر وړاندې بغاوت وکړي، نېک او فاجر دواړه يې وژني، او څه چې کوي هېڅ پروا يې نه ساتي او د هغه له امت څخه د مؤمنانو د وژنې له سزا څخه نه وېريږي، او د کافرانو سره يې چې له چاسره ټرون کړی او يا يې د خپلو چارواکو سره ټرون کړی، نو وفا پرې نه کوي بلکه ماتوي يې، نو دا لويه ګناه ده، او چا چې دا ګناه وکړه، نو د سخت ګواښ مستحق دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58218